# په بلجيم کې د ښاغلي ډاکټر ببرک ارغند د ادبي او فرهنګي هاندو وهڅو په وياړ نمانځ غونډه :

دغه غونډه پر(۲۰۱۵) زيږديز کال د دسمبر مياشتې پر پنځمه (۵) نيټه د بلجيم د (خينت) په ښار کې جوړه شوه.

په دې پرتمينه غونډه کې پر کوربه هيواد سربيره له بيلابيلو اروپايي هيوادونو څخه د پښتو او دري ادب و فرهنګ پيژندل شويو او نامتو څيرو، ليکوالو، اديبانو او شاعرانو، او ګڼو مينه والو هم برخه اخيستې وه.

غونډه د پاک قرآن  د څو آيتو په لوستلو د ښاغلي (ډاکټرهدايت الله) له خوا پيل شوه.




ورپسې ملي سرود وغږول شو.






غونډه له درو برخو څخه جوړه شوې وه :

۱- د ښاغلي ډاکټرببرک ارغند د علمي، ادبي او فرهنګي شخصيت او اثارو په تړاو خبرې.

۲- مشاعره او موسیقي.


۳- د لیکوالو شاعرانو او د پوهې، فرهنګ او ادب د مینه والو پیغامونه.

- دا غونډه زموږ د هیواد د خوږ ژبې او تکړه ویاندې اغلې سهیلا اصغري وردک حسرت نظیمي په وینا پیل شوه، دې د خپلو خبرو په ترڅ کې ټولو ګډون کوونکوته ښه راغلاست ووایه، او له دوی څخه یې چې په دغه غونډه کې یې برخه اخیستې وه د زړه له کومې مننه وکړه.




- اغلی سهیلا اصغري، ښاغلي خلیل الله وفا خدرخیل د افغانانو د ملي یووالي د ټولنې مشر ته بلنه ورکړه چې خپله وینا ګډونوالو ته واوروي.

ښاغلي خدرخیل صاحب ښاغلي ببرک ارغند او ټولو میلمنو ته ښه راغلاست ووایه او له دوی څخه یې مننه وکړه چې په دغه پرتمینه غونډه کې یې ګدون کړې وُ.




ـ وریپسې اغلې سهیلا اصغري د غونډې او د ډاکټر ببرک ارغند د علمي ، ادبي او فرهنګي شخصیت په اړه په پښتو او دري ژبو اوریدونکو ته په لنډه توګه معلومات وړاندې کړ او ډاکټر صاحب ارغند ته یې بلنه ورکړه چې د ستیژ سر ته راشي اوریدونکو ته خپله وینا وړاندې کړي. ښاغلی ډاکټر ببرک ارغند د چک چکو په بدرګه او تاوده هرکلي سره د ستیژ سر ته راغی او خپله وینا یې پیل کړه.





ډاکتر ببرک ارغند د خپلو خوندورو او ګټورو خبرو تر څنګ، ټولو میلمنو ته ښه راغلاست ووایه او له دوی څخه یې مننه وکړه چې په دغه پرتمینه غونډه کې یې ګډون کړی وُ. او له هغو ټولو دوستانو څخه چې د دغې درنې او پرتمینې غونډې په جوړولو کې یې کارنده برخه درلوده د زړه له کومې مننه او درناوی وکړ.

- په دغه نمانځ غونډوه کې انجنیرعبدالقادرمسعود هم برخه اخیستی وه . اغلې سهیلا اصغري ورته بلنه ورکړه چې خپله وینا اوریدونکو ته واوروي. انجنیرعبدالقادرمسعود د ښاغلي ډاکتر ببرک ارغند د ادبي اوهنري لیکنو، داستانونو او اثارو د ارزښت، درنښت او د اولسونو د راویښولو په تړاو په لنډه توګه او د ده د ژوند لیک په اړه د غونډې ګډونوالو ته په بشپړه توګه مالومات وړاندې کړ چې د اوریدونکو له خوا یې ډیر په مینه توود هرکلی وشو.


بزرگداشت
از آثار
پربهای
Belgie- gent
2015
داکتر ببرک
ارغند
کارمند شایستهٔ
فرهنگ



- اغلې سهیلا اصغري د خینت د والي معاون ښاغلي توم بالتهازر چې په دغه غونډه کې یې هم ګډون کړې وُ، بلنه ورکړه چې خپله وینا د غونډې حاضرینو ته واوروي. د ښاغلي توم بالتهازر وینا ګډونکوونکو په ډېره مینه واوریده او توود هرکلی یې وکړ.




- وریپسې د اغلې سهیلا اصغري له خوا سیاست پوه، ، د ادب و فرهنګ پیژندل شوي شخصیت، تکړه لیکوال اوشاعر، ژباړونکي او څېړونکي ښاغلي عبدالله نایبي ته بلنه ورکړل شوه چې د ستیژ سر ته راشي او خپله وینا د غونډې ګډون والو ته واوروي. ښاغلي عبدالله نایبي د ښاغلي ډاکټر ببرک ارغند د علمي او ادبي ستې او اثارو په اړه خپله وینا واوروله، چې د اوریدونکو له خوا په ډېره مینه د ده د علمي او ادبي لیکنې توود هرکلی وشو.



بزرگداشت
از آثار
پربهای
Belgie- gent
2015
داکتر ببرک
ارغند
کارمند شایسته
فرهنگ



- په دې غونډه کې داوید تروخ چې یو تکړه بلجیمي شاعردی هم ګډون درلود. اغلې سهیلا اصغري، ده ته بلنه ورکړه چې اوریدونکو ته خپل ښکلي شعرونه وړاندې کړي.




- وریسې زموږ د هیواد هڅاند لیکوال، او تکړه ژباړونکي ښاغلي داود اسعد ته د اغلې - سهیلا اصغري له خوا بلنه ورکړل شوه چې خپله وینا د غونډې ګډون والو ته واوروي. ښاغلي داود اسعد په خپلو خبرو کې د ښاغلي ببرک ارغند علمي او ادبي شخصیت وستایه او د غونډې حاضرینو ته یې وویل، چې د ښاغلي ببرک ارغند یو شمیر اثار یې په جرمني ژبه ژباړلي دي او ډیر زر به د کتاب په بڼه چاپ ته وسپارل شي.




- اغلې سهیلا اصغري (فه کي ایدر) ترکي شاعر ته بلنه ورکړه چې خپل ښکلي شعرونه ګډونوالو ته واوروي. ده خپل خوندور شعرونه د دوتار په غږولو سره په دې غونډه کې حاضرينو ته واورول چې د ګډونکوونکو له خوا د چک چکو په بدرګه یې توود هرکلی وشو.




WORLD DIFFERENTLY

- ښاغلی دستګیر هژیر چې زموږ د هیواد تکړه ژورنالیست، ادبپوه، سیاست پوه او د ( راه آینده) د ورځپاڼې مسوول مدیر دی هم په دغه غونډه کې ګډون درلود، ده په خپله لیکنه کې د ډاکټر ببرک ارغند د ادبي او فرهنګي شخصیت په اړه او د ده د اثارو په تړاو رڼا واچوله چې د برخوالو د تاوده هرکلي سره مخامخ شو.




دغونډې لومړۍ برخه پای ته ورسیده. اغلې سهیلا اصغري ټولو میلمنو ته د ماښامنۍ بلنه ورکړه.

د غونډې دویمه برخه (مشاعره او موسیقي)، ښاغلي الماس معارج چې یو تکړه ځوان او دادب او فرهنګ مینه وال دی پیل کړه .




- په دې برخه کې د ښاغلي الماس له خوا انجنير حضرت ته بلنه ورکړل شوه چې خپله وينا او د خپلې ټولنې پيغام برخوالو ته وړاندې کړي.


ښاغلي انجنير حضرت د خپلو خوږو خبرو او د خپلې ټولنې د پيغام د لوستلو ترڅنګ له کابل څخه د ښاغلي عبدالباري جهاني د اطلاعاتو او کلتور وزارت وزير، د ښاغلي عبدالغفور ليوال د اقوامو او قبايلو د وزارت مرستيال، د امين باوري د اقوام او قبايلو د وزارت سلاحکار، د ښاغلي زرين انځور د راديو او تلويرون پخوانی ريس، د ښاغلي نجيب احمدزي، د ښاغلي غريب او د ښاغلي پوهاندوی رسول باوري د خوست د پوهنتون پخوانی ريس، پيغامونه د ډاکټر صاحب ببرک ارغند د علمي، ادبي او فرهنګي هاندو هڅو د لمانځ غونډې په وياړ ګډونوالو ته وړاندې کړل.




- ښاغلي الماس کوشا معارج، ښاغلي سید عمران ستومان ته چې یو با استعداده ځوان او هڅاند شاعر دی بلنه ورکړه  چې خپل په زړه پورې او خوندرو شعرونه ګډون کوونکو ته وړاندې کړي. ښاغلي ستومان د خپلو شعرونو په لوستلو دا غونډه لاخوندوره کړه.




- وریسې ښاغلي الماس، ښاغلي سلیان بهادري ته بلنه ورکړه چې د ښاغلي پوهاند استاد مجاوراحمدزیار پیغام، چې د ښاغلي ببرک ارغند د هاندو هڅو د لمانځ غونډې په ویاړ یې رالیږلی وه ، واوروي.



- ښاغلی جابرمنظرچې یو ځوان تکړه او تاند شاعر دی هم په دغه بنډار کې برخه درلوده. ښاغلي الماس، ده ته بلنه ورکړه چې د دغې غونډې رابللو ته خپل ښکلي او خوندرو شعرونه  واوروي او غونډې ته نوره هم  ښکلا ورکړي.




- د ښاغلي ببرک ارغند د هاندو هڅو لمانځ غونډې ته دستګیر نایل چې زموږ د هیواد تکړه لیکوال او شاعر دی هم خپل پیغام رالیږلی وُ. ښاغلي الماس، ښاغلي انجنیر محمد عارف عارف ته بلنه ورکړه چې دا پیغام ګډونوالو ته ولولي.




- ښاغلی اسد خاطر چې يو تکړه ځوان شاعر دی د ښاغلي الماس له خوا بلنه ورکړل شوه چې د خپلو ښکليو او په زړه پوريو شعرونو په واورولو سره زموږ غونډه نوره هم رنګينه کړي.




- په غونډه کې یو بل ځوان او تکړه شاعر ښاغلي سهیل شینواري هم ګډون درلود. د ښاغلي الماس له خوا بلنه ورکړل شوه چې خپل شعرونه ګډونکوونکو ته وړاندې کړي.



- وریسي ښاغلي الماس کوشا معارج، ښاغلي رحیم رامشګر ته چې یو تکړه او هڅاند لیکوال او شاعر دی، بلنه ورکړه چې خپله وینا او خپل خوندور او ښکلي شعرونه اوریدونکو ته وړاندې کړي.




- ښاغلی عبدالله نایبي چې زمونږ د هیواد نوښتګر، مخکښ او پیژندل شوی لیکوال او شاعر دی، د ښاغلي الماس کوشا معارج له خوا بلنه ورکړل شوه چې خپل زړه وړونکي او خوندور شعرونه ګډونوالو ته واوروي.




- ښاغلي الماس، اغلې سهيلا اصغري وردک حسرت نظيمي ته چې زموږ د هيواد ، پيژندل شوې ويانده، خوږ ژبې ديکلماتوره او تکړه شاعره ده بلنه ورکړله چې د ستيژ سر ته راشي او په خپل زړه وړونکي او خوندور اواز کې خپل ښکلي شعرونه اوريدونکو ته وړاندې کړي.



- همداسې په بلجيم کې (انجمن فرهنگي خط سوم) ښاغلي ببرک ارغند ته يو ستاينليک ترتيب کړې وه چې دا ستاينليک د فريد ساپي له خوا د خپلې ټولنې په استازيتوب ښاغلي ډاکټر ببرک ارغند ته ډالۍ شو، او ښاغلي نقيب رادمل چې د دغې ټولنې يو تکړه غړی دی د ښاغلي ارغند صاحب يو شمير خوږې خاطرې اوريدونکو ته وړاندې کړې.





- ورپسې ښاغلي خلیل وفا خدرخیل په دې غونډه کې د خپلې ټولنې په استازیتوب یو ستاینلیک ښاغلي ببرک ارغند ته وړاندې کړ او حاضرینو ته یې ولوست.



- ښاغلي خليل وفا خدرخيل د خپلې ټولنې په استازيتوب همداسې يو ستاينليک اغلې سهيلا اصغري ته ډالۍ کړ.



- ښاغلي خليل وفا خدرخيل يو ستاينليک د خپلې ټولنې په استازيتوب انجنيرعبدالقادر مسعود ته هم ډالۍ کړ.



- زموږ د هیواد د موسیقۍ په ډګرکې ښاغلي ایاضي چې یو تکړه سندرغاړی دی هم په دې غونډه کې ګډون کړې وُ، اوغوښتل یې چې په دې غونډه کې په خپل خوږ اوازکې ښکلې او په زړه پورې سندرې ووایي خو د وخت له کموالي په وجه چې غونډه پردولس بجو او دیرښو دقیقو (۱۲.۳۰) د شپې پای ته ورسیده د موسیقۍ برخه پاتې شوه.







- په دغه غونډه کې له یوشمیر پیژندل شویو لیکوالو، شاعرانو او د ادب او فرهنګ مینه
والو ته لکه ښاغلي صدیق کاوون توفاني، ښاغلي عبدالوهاب سرتیر، ښاغلي طلابازحبیب
زي، ښاغلي الهام الدین قیام، ښاغلي اسد الله زمري، ښاغلي کبیرکاکړ، اغلې زرغونه

ژواک، اغلې ملالی ژواک، اغلې نیلاب موج سلام، ښاغلي عزیز سرشار، ښاغلي ننګیالي اله مال، اغلې جمیله زمان انوري، اغلې فتانه مقتدر، ښاغلي بشیرمومن، ښاغلي زلمی جهش، ښاغلي رزاق رحي، ښاغلي نورالدین همسنګر، ښاغلي عبدالوهاب فایز، ښاغلي الحان، ښاغلي اقبال وزیري، ښاغلي ذکریا پوپل، ښاغلي خلیل یاقوت، ښاغلي حازم، ښاغلي ولي شاپور، ښاغلي سیلني، ښاغلي بسم الله اکبري، ښاغلي زیارمل ، ښاغلي ظاهر ملک بابا، ښاغلي یعقوب بهروز، ښاغلي نیاز پاسوال، ښاغلي کبیر کمال او ښاغلي جلال عمرخیل ته هم بلنه ورکړ شوې وه، دغودوستانو په ډیره مینه او علاقه سره غوښتل چې په غونډه کې ګډون وکړي، خو دوی د بیلابیلو ستونزو له لامله په دې غونډه کې ګدون و نه شو کړای .

دا درنه او پرتمینه غونډه د شپې د یوې بجې په شاو خوا کې د خوښیو په څپو کې پای ته ورسیده.

په ډیره مینه او مننه : انجنیرعبدالقادرمسعود